# عبس

**مکی سورة دی ۴۲ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾

**(پيغمبر صلی الله علیه وسلم چې د قريشو له سردارانو سره يې غونډه درلوده او د هغوی د ايمان راوړلو لپاره په وعظ او نصيحت مصروف و، ناڅاپه نابينا صحابی عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه راغی او له پيغمبر عليه السلام نه يې د يوه مبارک آيت د تفسير پوښتنه وکړه، چې د غونډې دغه اخلال په پيغمبر عليه السلام باندې لږ شان درونډ تمام شو، او د خفګان نښې يې په مبارک مخ کې راښکاره شوې او الله تعالی وفرمايل):**

**تندی يې تريو کړ او مخ يې واړاوه.**

أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ﴿٢﴾

**ځکه يو ړوند ورته راغلی ( او غونډه يې اخلال کړې ده).**

وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾

**(ای پيغمبره!) ته څه خبر يې، کيدی شی هغه( ړوند مؤمن ستا په تعليماتو او نصايحو سره نور هم) پاک شی.**

أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ﴿٤﴾

**يا په( حقايقو) پوه شی او ستا پند او نصيحت ورته( نورهم) ګټور ثابت شی.**

أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٥﴾

**خو څوک چې ځان ورته ډير شتمن او په ځان پوره ښکاری.**

فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾

**ته ورته زياته پاملرنه کوې.**

وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾

**که هغه پخپله( له کفر او شرک نه) ځان پاکول نه غواړی، ته وربانديې هيڅ ملامت نه يې.**

وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ﴿٨﴾

**خو څوک چې تاته په منډه( او مينه) راغلی و،**

وَهُوَ يَخْشَىٰ ﴿٩﴾

( او له خپل رب نه) ويره ورسره وه.

فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾

نو تا ترې مخ واړاوه، او ترې بې پروا شوې.

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾

نه( دغه کړنلاره ستا له لوړ شان او مقام سره مناسبه نه ده)، بې له شکه چې دا( قرآن) يو پند او نصيحت دى.

فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾

نو که څوک وغواړی( له دغه الهی پند نه) ګټه او لاربنوونه تر لاسه کولی شی( خو که متکبر سرداران مبارک قرآن و نه لولی او عبرت ترې وانخلی تاوان يې خپل دی).

فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾

( دا قرآن د لوح محفوظ ) په ډيرو محترمو او مکرمو پاڼو کې( ليکل شوی دی).

مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ﴿١٤﴾

په عاليشأنو او مطهرو پاڼو کې.

بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾

په داسې( ليکونکو) لاسو چې:

كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

محترم او نيکو کاران دی.

قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾

مرګ دې وی په( نافرمان) انسان چې څومره کافر او ناشکره دی( د الله تعالی حق نه پيژنی او د مبارک قرآن له عظمت نه منکر دی).

مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾

( او د خپل خلقت په حقيقت هم لږ شان فکر نه کوی چې الله تعالی) هغه له څه شی پيدا کړی دی؟

مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ١٩

**له( سپکې او حقیرې) نطفې نه يې خلق او بیا يې( په ښکلی فزیکی هیئات،کمال، عقل، ادراک او واک او اختیار سره ښه سمبال او) منظم کړی دی.**

ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ٢٠

**بیا يې( د هدایت، نیکمرغی، خیر او اطاعت) لاره ورته آسانه کړه.**

ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ٢١

**بیا يې مړ کړ ( او ورثې ته يې) لاربښوونه وکړه تر څو يې( په عزت او احترام) خاورو ته وسپاری.**

ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ٢٢

**بیا يې کله چې اراده وشی بیرته یې ( د حساب کتاب لپاره)راژوندی کوی.**

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ٢٣

**نه -( کافر انسان) هغه مسئولیت سرته و نه رساوه چې (الله تعالی ورته د الهی احکامو د اطاعت او د کفر او شرک نه د ځان ساتلو لپاره) سپارلی و .**

فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ٢٤

**انسان دې خپل خوراک ته پام وکړی.**

أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ٢٥

**مونږ زیاتې( بارانی) اوبه راوورولې.**

ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ٢٦

**بیا مو ځمکه( په ګتوره او مناسبه توګه) وڅیرله.**

فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ٢٧

**غلې دانې مو پکې رازرغونې کړې.**

وَعِنَبًا وَقَضْبًا ٢٨

**او هم مو پکې انګور او سبزیجات پیدا کړل.**

وَزَيۡتُونٗا وَنَخۡلٗا ﴿٢٩﴾

**او د زيتون او كجورو( ونې).**

وَحَدَآئِقَ غُلۡبٗا ﴿٣٠﴾

**او ګڼ ګور باغونه.**

وَفَٰكِهَةٗ وَأَبّٗا ﴿٣١﴾

**او ميوې او څړځايونه( مو پکې پيدا کړل).**

مَّتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ﴿٣٢﴾

**چې څه ستاسو په ګټه او څه ستاسو د څارويو د خوراک لپاره دی.**

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾

**نو كله چې( له ويرې او دهشت نه د ډکې زړه بوږنوونکې) چيغې( دويمې شپيلۍ) غږ راپورته شی.**

يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾

**هغه ورځ به هر څوک په تيښته وی، حتی له خپل وروره،**

وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾

**او له خپلې مور او خپل پلار نه.**

وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾

**او له خپلې ښځې او اولاد نه( به بيزاره وی).**

لِكُلِّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾

**هر سړی به په دغه ورځ پخپل غم اخته وی( او د بل هیچا فکر به ورسره نه وی).**

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾

**خو په همدغه( سخته او ستونزمنه) ورځ به داسې مخونه هم وی چې( د ایمان په نور) به ځلانده او له خوښۍ ډک وی.**

ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾

**( د الهی اکرام او اعزاز له برکته به)خوښ او مطمئن وی.**

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾

**او د ځینو نورو کسانو( کافرانو) په مخونو به په دغه ورځ( د غم او کدورت) سپیره گردونه پراته وی.**

تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾

**( او د کفر او عناد له امله به) تک تور اوښتی وی.**

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

**همدوی دی کافران او مفسدین.**

**« تمت سورة عبس بفضل الله و رحمته»**

**====================**